http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصري خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خیبر دري
د شاعرانه غېږي
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حېرانېږم
په دې خم خیبر کښې څه دي چې له خاورو



# فهرست

شمیر — مخ

(ا)

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا ______ ۱۴
۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څه کا ______ ۱۵
۳ : ژړېږي چې کوي هر وخت دردونه اشنا ______ ۱۶

(د)

۴ : کافي برقې دی دیدار د محمدؐ ______ ۱۷

(ل)

۵ : خیبر ته که د رته ما وکتل تا را وکتل ______ ۱۸

(م)

۶ : د استاد حسن تماشې وا خستم ______ ۱۹
۷ : دوایه شم تا نه قربان څه وکړم ______ ۲۰
۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ______ ۲۱

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ

۹ : زه نکه د مرم په شان دیدار ته اربه کېږم ―――― ۲۲
۱۰ : شرمېږم چې نه یم په څراغه پسې نعيم يم ―――― ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هغو نه بېدار نه شم ―――― ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او که دنیا واخلم ―――― ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شي زه چې نه لغلم ―――― ۲۶
۱۴ : نکه ګلې چې په ازغو کښې وینم ―――― ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ―――― ۲۸
۱۶ : اشنا که تا ته په کتو یو شوم ―――― ۲۹
۱۷ : قسمت داسې دې وده کېږم چې بېدار نه شوم ―――― ۳۰
۱۸ : نور به نه دې نه څانېري چې خه طيم ―――― ۳۱
۱۹ : ته به ګرعې هسې بنګلې نه به مېږم ―――― ۳۲
۲۰ : بنګلې مخ ته دې د مرم په شان اربه يم ―――― ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګرېږه سرې سکروټه يم ―――― ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زه دې په غنچو کښې نه يم ―――― ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلې یم ―――― ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلو کښې یم ―――― ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندی کله ته ما یوه دی چې له څا دره ―――― ۳۸
۲۶ : څوره به زه ته بهمه به سرو سترګو ―――― ۳۹
۲۷ : نور به خه یرسې زما په تورو سترګو ―――― ۴۰

مخ

۲۸ : بیا دې سې نه کېږم په هغو سترګو ―――― ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې توره شپه سحر لیدلي ―――― ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا له ورېد پیغو بعض سره لاړ لي ―――― ۴۳
۳۱ : باد شومه د عشق ډګر ټګونه په سر وزي ―――― ۴۴
۳۲ : خو به سره پټ دراپه به نه وه ذره ذره یې ―――― ۴۵
۳۲ ب : څکه چې تن په سوز ېږه ورته ګېږو ―――― ۴۶
۳۲ ج : څنه شوله ویره چې انکار دې وکړو ―――― ۴۷
۳۳ : خبر نه وم دې ثواب او دې عذاب ته ―――― ۴۸
۳۴ : زه یمه حیران د دنیا سترګو ته ―――― ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل نخښه ده ―――― ۵۰
۳۶ : خوانده تراخه شو د خوږو هسې نامه پاتې ده ―――― ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار هسې ستړې توره شپه کړه ―――― ۵۲
۳۸ : له د نقاب لرې کړه دل زده کړه ―――― ۵۳
۳۹ : ما په شوګیرو تا په خوبو تېره کړه ―――― ۵۴
۴۰ : رقیبه په خوبو راغلې راشنا خبرې کړه ―――― ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه نشې وباسه ―――― ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یوسه ―――― ۵۷
۴۳ : نکه ګلی د مرسپه دو چکه شه ―――― ۵۸
۴۴ : ستاله سینه مخه څار زما زړه ګه شه ―――― ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه درې په لاس کښې راغله ―――― ۶۰
۴۶ : ترخه ته چې زړه ګیری کله کله ―――― ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شوله ———— ٦٢

٤٨ : بیا به سره کړم اوس ځواني ده درومه درومه ———— ٦٣

٤٩ : شکر دے چې زۀ هم د شپې شومه ———— ٦٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا یمه ———— ٦٥

٥١ : دلا دې غاړه شم د ښې ځښې وتلې یمه ———— ٦٦

٥٢ : توبه شګفته تېرېږي کا به هوښیار باندې وختنه ———— ٦٧

٥٣ : ما په مثال کله پتنګ نګینه ———— ٦٨

٥٤ : د ستا د خلې چې فیصله مانه شي ———— ٦٩

٥٥ : نور نصر به خر پره کښې د افسین مه ړکره ———— ٧٠

٥٦ : ته خو وایه زۀ به څۀ کړم، زړګیه لېونیه ! ———— ٧١


ډ


٥٧ : څښګر چې شي کباب په لمبو د لګېدۀ ———— ٧٢

٥٨ : لرے دریاب د ښیتي نۀ شي په واړۀ زړۀ ———— ٧٣


ی


٥٩ : داسې بله شپه به په نصیب سره راشي ———— ٧٤

٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو ځمبا ن وي ———— ٧٥





٦١ : د ستا سترګې چې کړې څپې د زړۀ نه وتې ———— ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا دې چې د ډېر دوه نه څۀ دی ———— ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نۀ شې په بیا کښې څۀ دی ———— ٧٨

٦٤ : کله د ستا د خندا په ورشپې دی ———— ٧٩

٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دی ———— ٨٠

٦٦ : زما چې دامدام دغه دلبر ته سترګې دی ———— ٨١

٦٧ : څن څن ماته هسې په دنیا ښکاري ———— ٨٢

٦٨ : زړۀ چې ګله هر څو را نه هر څۀ غواړي ———— ٨٣

٦٩ : زما زړۀ او د ستا سترګې سره چېړي ———— ٨٤

٧٠ : ما تېره شپه چې زړۀ د چېرې شي دد دمرنه دې تېرېږي ———— ٨٥

٧١ : څۀ چې پرېږي پېمانه ما دیار سره چېړېږي ———— ٨٦

٧٢ : د مخت ګذار د وشي چې ما غمې نۀ جوړېږي ———— ٨٧

٧٣ : نور به ایله څۀ د لېوني نه پاتې کیږي ———— ٨٨

٧٤ : سترګې دې کړه برنده چې چې وختره دار خطا شي ———— ٩٠

٧٥ : په ارمان د تاتا زۀ شي چې هوښیار شي ———— ٩١

٧٦ : ددې دنیا نه چې ګلان ورک شي ———— ٩٢

٧٧ : چې چې دومره دے د لېمو پېمانه شي ———— ٩٣

٧٨ : ستا چې خورې زلفې کړې ښې ما تار شي ———— ٩٤

٧٩ : وړاندې چې به چې دا ده چې کاڼۀ به شي ———— ٩٥


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لاړ شي، بهار راشي ګلان خوشحاله شي ______ ۹۶
۸۱ : راشه په ګوګل کښې د جګر خبرې نهٔ شي ______ ۹۷
۸۲ : واسته په سترګو کښې به څهٔ پاتې شي ______ ۹۸

## ے

۸۳ : زړهٔ په ما نهٔ دے چې نا رسے مخ دے ______ ۹۹
۸۴ : شوک چې ستا د ګرانې مينې طلبګار دے ______ ۱۰۰
۸۵ : خوږ خوږ د مينې په ترخو کښې انتظار دے ______ ۱۰۱
۸۶ : خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے ______ ۱۰۲
۸۷ : ما دې ګمان راته اشنا د ستا په شهر دے ______ ۱۰۳
۸۸ : شاڅه چې حسن دې اشنا د سرو لبو نه ډک دے ______ ۱۰۴
۸۹ : تګ تر د سره واسته سره ورېل دے ______ ۱۰۵
۹۰ : څومره د ورېږې په زړګي باندې چې غم دے ______ ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې ما ته کال څهٔ دے ______ ۱۰۷
۹۲ : چې نږدې ستا په ترور دے په بل ترورې پېرند نهٔ دے ______ ۱۰۸
۹۳ : چې لمن نظر چې د بخت باقي دے ______ ۱۰۹
۹۴ : سترګې دې چلې چې وخندا زده کړے ______ ۱۱۰

## ي

۹۵ : د ځان سپېڅلو دلو کښې مسکې دې ما ليدې ______ ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې نن ليدهٔ تېرې وعدې را ياد يدې ______ ۱۱۲
۹۷ : زما د اميدونو غنچې شپې وغوړېدې ______ ۱۱۳
۹۸ : چې ښکلې دې وخندېدې شړشړېدې ______ ۱۱۴



مخ
۹۹ : چرته شرمېده په دې چې په ګنځل کښې خکنه ښکاريږي ______ ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې رنګ لهٔ خندله سترګې لاړې ______ ۱۱۶
۱۰۱ : کڅهٔ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څهٔ کړې ______ ۱۱۷
۱۰۲ : د پره خوشحالي بشه نهٔ ده بيا راته هم پرې ______ ۱۱۸
۱۰۳ : ګله مجنون غرندې ګرځم په بيابان مرچې ______ ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماو تابان په توره شپه کښې ______ ۱۲۰
۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکار ونې زما سترګې ______ ۱۲۱
۱۰۶ : خود د هسې ليرې کړې شرې زما سترګې ______ ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نهٔ وينم دا ترې سترګې ______ ۱۲۳
۱۰۸ : څهٔ وشو چې سترګې دې په تابانه چخړې شوې ______ ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا رنې کړې ايسار يم ولې ______ ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکې نهٔ کيږي خو سا ماتې شوې ______ ۱۲۶
۱۱۱ : تهٔ به په زړهٔ کښې ما ته څهٔ وا کړې ______ ۱۲۷
۱۱۲ : تهٔ ما ستا ښلي يې په سلهٔ نهٔ يې ______ ۱۲۸
۱۱۳ : هر څو کڅې د زړهٔ قرار دار له راځي ______ ۱۲۹
۱۱۴ : داسې راته ګورې ته نهٔ چې راته ګورې ______ ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاتهٔ کا
خو د لمحهٔ شي کم طاقته پېواتهٔ کا

چې پلو لا مخه لرې کړي ژړا شي
لکه ستر ګه د سبا چې راخاتهٔ کا

لږ يې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې ښکاري
چې دا تور بانړهٔ دې څرنګه ويشتهٔ کا

په مينه زړهٔ ځنګدن شي چې يار راشي
په هيبت زړهٔ په کوګل کښې الوتهٔ کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د يار په لور کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک په ځيګر شي نو به څهٔ کا

چې ټول عمر يې تېر کېږي په پالنګ وي
څهٔ چې زمکه يې بستر شي نو به څهٔ کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نهٔ وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ ديدن د يار موندے په ډېر عذر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه دغسې وايم
چې اشنا يې مسرور شي نو به څهٔ کا

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړه ئې کوي هر وخت دردونه آشنا
لېږ خو ئې واوره فریادونه آشنا

تر څو به ژاړم ستا په مینه کښې زۀ
ګوره داوښکو ئې سیندونه آشنا

اوس دې لۀ غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

ښ په جبین کښې دې خالونه ښر دي
دي په چشمانو ئې ګردونه آشنا

کۀ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

ګېر ګلونه به ئې لا رې شي په مخ کښې
کۀ چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به ئې هېر شي
کۀ چا ولیده ګلزار د محمدؐ

ئې د دې دُنیا ژړا او خندا نۀ وے
نۀ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو ئې وصال ګڼړه خاطره
ئې قرار وي ئې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کۀ در ته ما وکړل تا را وکتل
خو ګودم به دې بيا کۀ دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلونه ورو چې مينه جوړه شۀ
څۀ و شو پسر لے دے کۀ آشنا را وکتل

دنيا را ته ګورى د کتو نه ووتم
چې تا نه مې کتلى دى هرچا را وکتل

پۀ مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوۀ
کړه غم دې را ته جوړ چې دې پۀ شا را وکتل

دستى مې وخندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقيبه پۀ خندا را وکتل

يو دم مې زړۀ نرے شو لو هم زولو خاندۀ مه
خاطر چې غريو نيولى پۀ ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پۀ سر لمبې واخستم

لاس خو يې را نۀ کړو چې مخ پټوى
ګورى ياران مې د غم شپې واخستم
دا در ته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله تۀ چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بيا پۀ زولنو کښې ګوره
نن يې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پۀ سبا پوه نۀ شو مه
کۀ دې د زلفو تورې شپې واخستم
ګوره د ژوندون را ته يو پور پکار شو
چې تصور د هغې يې واخستم
بس ياد دم دې نور يې مۀ ننګوه
چرته مې هر نشې غمې واخستم

خاطره تۀ او دا دنيا دې پوه شه
نۀ بس د عشق يوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

وروایه شم تا نه قربان څـهٔ وکـړم
نور ددې د پاسه پهٔ ځان څـهٔ وکړم

تهٔ خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زهٔ پهٔ دې شـلېدلي ګرېوان څـهٔ وکړم
تهٔ خو چا ته نهٔ ورځې، خو زهٔ بې علم
ځم ستا پهٔ در کښې مېلمان، څهٔ وکړم
زهٔ به نور څـهٔ نهٔ کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څـهٔ وکړم
ستا پهٔ طمع ځان له پاتې شوے يم
ټول خو راته لاړل ياران، څـهٔ وکړم
پوه دې چې پهٔ ځان کړم اوس چې نهٔ پرېږدې
بيا به راشي نهٔ کړم سلطان، څـهٔ وکړم
چا به دغم ټوک ټوندون اخستے وهٔ
بس خو چې پيدا شوم انسان، څهٔ وکړم

اوس خو زهٔ خاطر پهٔ څـهٔ پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې مېړان، څـهٔ وکـړم

○



○

باغ د مينې دې د خيال پهٔ کښې غوټۍ کړم
ستا د مغ پهٔ تصور کښې تماشې کړم

بل به نهٔ وي ياره ستا غوندې کښې حُسن
شُعله اور د څپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړهٔ پهٔ ستړګو کوم
پهٔ ځان تېرې شپې او بدې راخورې کړم

زهٔ خاطر خو ياره ستا د مغ کتاب ته
بې لهٔ تا نه پهٔ خبر کښې ورځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار تۀ اوبۀ کېږم
پرې پرې دۀ چې او بۀ شم ستا رخسار تۀ اوبۀ کېږم

چرته شي خوبونه شپې پرې ستورکي مخلجر کړي
همدا يې مشغولا شي ستا سپېنګار تۀ اوبۀ کېږم

زۀ پرې بنۀ پوهېږم ستا لېدل زما اجل دے
بيا يې هم وار نۀ شي ستا يو وار تۀ اوبۀ کېږم

اوس خاطره ولې خداي پۀ نيوۀ کړم دومره سخته
بيا چې پس لۀ مرګه ستا مزار تۀ اوبۀ کېږم



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښيار نۀ شم
څو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود يې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شي
څو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

يار يې وفا دې ماته هله وائي
چې تر دې لاسه او ماله زار نۀ شم

څو چې پۀ تورو خاورو موړ نۀ شم
موړ به دې هرمره پۀ ديدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره! داسې ګـذار عشق راکړلو[۱]
چې بل ګـذار تۀ به بېدار نۀ شم

[۱] متن او ديوان کښې "راکړو" دے، چې مصرع بې وزنه کوي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکړه دنیا واخلم
په خندا خرڅنګه ژړا واخلم

لبې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لېوه سودا چې په دنیا واخلم

ته چې په سترګو کښې مسکۍ شوې ګلې
نو دې ددې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم په دوو زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بیلتون را ته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم



غوره چې نه پېږم په ځواني پسې نه هېرېږم
خدای نه ده نه پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نه اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
د عمره خو پوهېږم چې قدم اخلم وړدېږم
نه او ستا بنا ښست چې په ما څنګه څنګه کړے شی
مه کوه ایله نن د هر څه سره جوړېږم
نه یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندنه مه شي
خدای یې پښلامه کړه چې له تا . مرورېږم
شان یې د کړو نه وی خو چې زړه مې شی راپورته
تا ته چې نه سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
خوښته یې هم دا چې را ته وولې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې په پلو در ښکاره کېږم
ته که په یو ځل له ما خلاصېږې نو یې واخله
ته به را ته نه شې کټې ځله له خنده کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وړې چې یې هېر کړه
پېښېږده چې یې وایه په هر ځای کښې در یادېږم

میاشتنۍ ، قند ، مردان . خصوصي ګڼه ۱، رکالئیز نمبر (ص ۹۵)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالي ستا شوه زه يې نۀ اخلم
د ستا غمونه واړه زۀ اخلم

تا يې چې زړۀ وړه ګواه هم نۀ لرم
اوس به له تا نه خفګه زړۀ اخلم

اول سپېرغي وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلم

په وړاندې ځم په ورو ستو ګورم آشنا
زۀ قدمونه چې واړۀ اخلم

هر مره ګړ دو نه په خاطر دی د غم
په اسويلو کښې چې سيالۀ اخلم

له منزل ته کښې د النظر وضمونه د ده چې صحيح نۀ دے .



لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړۀ ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څوک له لرې اوسې له ما
زۀ دې د نم په پلوشو کښې وينم

د ستا ليدل تېر شوے خوب وۀ آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړګي با خبره په ورو
تلۀ د آشنا دې په خټو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اودۀ کښې ويسو
اوس يې له ګله په اسويلو کښې وينم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنیا کښې مستې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غرې تېروم

پهٔ ما زهیر مهٔ شې خوږ مخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشناکهٔ تا ته پهٔ کتو پوره شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوره شوم

پس خو معلومه شوه چې نهٔ را درومې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوره شوم

یا د ساقي د مې خوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوره شوم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور په زړه کې نه ځائېږي چې څه وایم
دا نه بیا مسرورېږي چې څه وایم

که څه نه وایمه هم راپورې کړي
په دې هم راته قهرېږي چې څه وایم

د هر چا په لوري څمه داسې وخت دے
بیا هې وخت کله تېرېږي چې څه وایم

که خبره نه وي مانه خبر دے خبرے
بیا خپل حسن نه خبرېږي چې څه وایم

ډېره ښه په تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې ې شرمېږي چې څه وایم

قسمته داسې دې ودہ کړم چې بېدار نه شوم
بغېر له تا ستا د غمونو نه وزګار نه شوم

په دې دنیا کښې به غېر ستا له ژونده څه ژوندي
لېونېم غوندې ځوږېم خو یو ځل په کښې خمار نه شوم

ستا په الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځني وېزار نه شوم

ته چې راکوري زه به هغه وخت په طمع ومه
یو ځل هم مرور د ستا د خُلې په ښه ګفتار نه شوم

هغه وعده چې تا په سترګو کښې ورته مانه کړې
دا زه خاطر دې د وعدې په انتظار نه شوم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تۀ به ګرځې مسې ښکُلے زۀ به مړ یم
چې ې اوس وسےلې لیدلے زۀ به مړیم

جنازه ې چې لۀ کوڅه ګډ تـه دروی
تۀ به نۀ وې راو تلے زۀ به مړ یم

خداې د پاره پۀ مزار ې چې را دروې
لږ شه ماته پښه نیولے زۀ به مړیم

زۀ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به ټول کلے زۀ به مړیم

وچې تـرخې به پۀ ما وی با زرغونې
وی مزار به مې مُښلے زۀ به مړ یم

اے اشناچې دې وطن لۀ تۀ رادروې
خړغښې خوږې لیدلے زۀ به مړیم

خړې خاورې به پۀ ما باندې انباروی
هر سړے به دروی غلے زۀ به مړیم

د کاکُل پۀ خته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پۀ خدای سپارلے زۀ به مړیم



ښکلی مخ ته دې د موم پۀ شان اوبۀ یم
لکه کافے مسې ګلک ور ته پۀ زړۀ یم

چې پۀ کومه لاره لاړ شې زۀ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خوړ پۀ هر یو پلۀ یم

زۀ پۀ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښۀ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پۀ دې خوب پسې لا مفتې وُدۀ یم

لږ د ځان سره پۀ زړۀ کښې فکر وکړه
زۀ خاطر دې چرې یوځلې پۀ زړۀ یم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ګوره چې رنګ مې سوے سکوډ نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مه ځه درېږه
سرې په ژړا دی څهٔ مېخور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې ته نهٔ ګورې څهٔ
سوے په اور یم سوے لوګ نهٔ یم

ستم کوه تهٔ منع کوے یې چا
زهٔ لا خاطر مړے د ګور نهٔ یم

○



○

سپرلیه زهٔ دې په غوټو کښې نهٔ یم
عادت په داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب راکوه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ماخپله ورځ ولیده
د داسې ژوند په تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانړهٔ د ستا رخسار په خاطر
بې د ګلونو په ازغو کښې نهٔ یم [ډ]

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې په در تلو کښې نهٔ یم

○

ډ متن لیندنو او دیوان کښې دا بیت د غزل وروستو بیت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه یې دنیا نه یې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به یې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه



یاره ستا مینې په اور سېځلے یم
روغ به نشمه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې ترهغې پورې ژوندے یم
ډېر دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناستے یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر والې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلے یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماړهٔ دی بې لهٔ خاورو
نهٔ ماړهٔ دی نهٔ ساړهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دېوال کېږے چا اوبهٔ دی بې لهٔ خاورو ۲

د خاطر رنګين غزل ته حيرانيږم
پهٔ دې خبر خبر کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

۱ متن لیکه او دیوان کښې دا (۱) پهٔ شاعو مصرعه (د) لیکلے شوې چې صحیح نهٔ دے
۲ متن لیکه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دېوال کېږے بې اوبو دے چا لهٔ خاورو .



خوږ به نهٔ شي ژړېږمه پهٔ سرو سترګو
تږو تمه ستا پهٔ لمبو سترګو

مهٔ تووروه توره بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له بې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګورې چا ته پهٔ معصو سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه تهٔ
خلق وهي عزت کړي د نرو سترګو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ يوسي زما پهٔ تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا پهٔ تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه څو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوي پروا د تورو سترګو

وهلې سترګې مې د سترګو پهٔ هلورشي
کړم دې داسې وارخطا پهٔ تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به يې نهٔ کړم د دنيا پهٔ تورو سترګو

زهٔ خاطر دې د ګجلو سلائي وے
ښکلولے دې اشنا پهٔ تورو سترګو



بيا دې سهي نهٔ کړم په هغو سترګو
يو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس څو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ يې کړم آشنا لهٔ شوکيرو سره
يو مې پل خوبونه ستا قدو سترګو
نهٔ يم چې د زړهٔ په سترګو تا وينم
چا رڼا ليدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بدرګې په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردو سترګو
ستا دې اوښدو ورو څو ته حيران يمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
څه دے دا زما سترګې څو بدې شوې
تهٔ خو را ته ګوره په دې ښو سترګو

څومره ترټنه کړې دې حيران يمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ريډيو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتر لیدلو

دریغه چې شپه وے د وصال خو تر قسمته پورې
زۀ په دیدن نۀ مړیدم چې مې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو هله لیونے کړمه زۀ
سرې مابنام مې نمر اوچت د غرۀ په سر لیدلو[1]
نۀ یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نۀ یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائي وختونه
لۀ غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لیدلو[2]

خاطرہ بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي ربار چې مې جانان دې مسعد لیدلو

[1] ... : د مابنام سر ... اوچت د غرۀ په سر لیدلو

شوق مې ستا د پېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبۀ د ستمونو سره لاړلو

خوبن مې اننګې شول د بنو ازغي مې مېړ شول
نړۀ را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
وړې مې کړې تېنګې خو اخر مې اوبښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زۀ تر ښه لوګے شم چې به څۀ سوے تر ې راشي
نړۀ را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زۀ په انتظار یم
ستړے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به نړما لیونے نړۀ پرې مشغولیږي
ستا د تورو زلفو د ځنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د رڼې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



باد شو مه د عشق د ګرنګونو په سرونو
په بوتم دلبرۍ وطنونو په سرونو

د ړنګه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وي
پرې ته چې ګورم د ګلونو په سرونو
ستړې به نه ماشي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګردابونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپېر ستړګې حق حیران شي
درد چې کړه د لمبو د محلونو په سرونو
هسې هم ايرې يمه د باد سره الوځم
سکون مې خله نيسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د ياره کله شو پرېشي
خاورې دې پرتې وي د تېغونو په سرونو

بنګلي به سر ټيټ کړي ياره ستا په تصور کښې
ډېر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



ځو به سره پټ دواړه په زړه ذره ذره يُو
کله دا دې خوبنه نه ده چې هرچا ته دې ښکاره يُو

يو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې پرېږدے
څو به په کښې وايو چې مدام دې دربدر يُو

ته زما په سرې شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وى نو مړه به دواړه په يو شپه يُو

نه به کله واورم که دنيا په بله واوړي
ګرځي دې نور خلق مونږ په خپله تماشه يُو

پوخ به مې سوګند شي په کښې ود ځو د يار
اوس به دواړه څه رقيبه تورې په اوبه يُو

راشه مرورو چې مې شک له خاطر وځي
وايو به رښتيا چې دا په څه سره خفه يُو

له دیوان او منزل رسند کښې سرې [illegible]
[illegible] منزل رسند کښې [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څکه مې نن په سوزېدو تېر کړو
چې مې پرون په مسېدو تېر کړو

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړو

دلسوزی مه کړه تپوس همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړو

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وه
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړو

پار بیا د چا له تورو زلفو نه کړم
یو ځلې مرګ را باندې دو تېر کړو

لکه د شمعې بېکا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سکو تېر کړو

زه چې سپېلی ته ورخېږم نه یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړو

ژوندون د عشق لمبې ژوندې څه دی
سر مې له واړو ګېرنګو تېر کړو

اشنا د ستا د بنګلې مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

نشه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا خفه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وېلې یم
وار به دې راشي که لږ وار دې وکړو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نۀ وم دي ثواب او دي عذاب ته
خو تصوير وم ستا په ورو خوځېدو محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کښې
اوس مې نۀ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

يو ذره يې لرې نۀ کړلو د مخ نه
فکر يو ړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور يادونه مې په ياد کښې رانه هېر شول
يو دوه نۀ راځي چې کښېنمه حساب ته

وايي زړۀ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زړۀ يمه حېران د دنيا سترګو ته
ګوره کتے نۀ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه ليونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
رامې شي له واره ژړا سترګو ته
راخو دي په خپله اشنا کړې دي
څله مې ناوېل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غوندې
بيا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا جوړې ارادې د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګينه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بيا به نۀ راکوي سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چې رقیب ته اشارې کړې دا د مل نښه ده
ته چې دا غلې غلې ګورې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

ته چې تپوس رانه مدام کوې چې څه لټوې؟
زه چې دا لاس په سینه ږدم دا یې اول نښه ده

خاطره تا چې بیګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین یې دا دے اخري ستا د اجل نښه ده



خوږه تراخه شي د خوږو ورځې نامه پاتې ده
د بدو شپې دي او د ښو ورځې نامه پاتې ده

ته رانه هېر یې خدایه هر څه په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو ورځې نامه پاتې ده

په سترګو ژاړو او په زړو کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د ژړېدو ورځې نامه پاتې ده

په ډېره مینه کښې چې زه او ته پرې نه پوهېدو
د عقل ورځو او د شپو ورځې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو باندې اور لګوه
د ستا د عقل اننګو ورځې نامه پاتې ده

صبا به وائي چې د خدای په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو ورځې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار يې هسې سترګې تر له شپه کړې
خندل را پورې سترګو چې سپوږمۍ راته ګيله کړه¹

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږي ته غلې
ما به کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډه نظر ستا چې هر ستوري به جلب کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوري به مزه کړه

ورسره به يې نه وچېږي که شپه وچېږي د خاطر نه
په ژړا ژړا ځو ډه شي خو وعده يې ستا پوره کړه

¹ صحيح مصرع داسې په کار ده: خندېدل دا پورې سترګو چې سپوږمۍ ورته ګيله کړه



لږ د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اې زړه چې سم دا وارې ونه چوې
لکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصيحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پهٔ شوګیر تا پهٔ خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته پهٔ کیلو تېره کړه

بېګا راغلې شمع دوبه اشنا
ما توله شپه پهٔ ورېدو تېره کړه

مینه د ستا زما نور زړهٔ سوزوی
هسې لمبه دې پهٔ ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا لهٔ خاطره اشنا
د هجر شپه مې پهٔ سلګو تېره کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



رقیبه پهٔ خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې ستړګې زهٔ د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې داغمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سودې کله کېږي د ساقي پهٔ پیمانو
د تهولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د ستړګو سپین داوښکو پهٔ سیلاب کښې
بس زړ شه راته وایه د خندا خبرې کړه
پهٔ خود نهٔ یم تېر وس راځنې مهٔ کوه ددهر
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونهٔ کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو تربې زما له خلې وباسه

یا مې د زړه رازونه مه لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څه لنډوه تنګه دنیا ګه شوه دبه
زړې د ژوند له ورځې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مه تنګوه
له دې سراې نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړه په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه يې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان يوسه
يوسه په لوري د جانان يوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کله چې خو ما سره د ځان يوسه

چې دې د حُسن چمن تربے نه شي
راشه د اوښکو ې باران يوسه

ته چې مسکے شوې زما زړه ته بنکليه
دا د غمونو ړک جهان يوسه

خوبه زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان يوسه

لې د خاطر کړه شمع روڼه خاطر
بهار دې راوله خزان يوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


ںکه کلی لهٔ مسېدو ډکه شه
بانډهٔ دانیغ کره لهٔ اغزو ډکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته نیغه نهٔ شوه
زما خټکل لهٔ زولنو ډکه شه

کهٔ یې هر څو درسره فسدیولے
خو زما مینې لهٔ پښتو ډکه شه

چې مې ژوندون لهٔ رنګینو نه ډک شی
بیا پهٔ غصه کښې لهٔ نشو ډکه شه

بس پښېمانی لهٔ زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه لهٔ اشارو ډکه شه

چې تا مې هم ګرېوان ته څیرې ووې
هم ستا کوڅه یې لهٔ تېږو ډکه شه

ښهٔ دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیا نهٔ وائې
فضا زما لهٔ اسوېلو ډکه شه

بدخواه چې لاس پهٔ سینه کېږدی درته
دخېبر څانګې لهٔ اغزو ډکه شه

خاطره یار دې پهٔ خېبر کښې اوسی
تپوله دره لهٔ سپېلنو ډکه شه

○

○

ستا لهٔ سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم داستانهٔ سپېلنے اوهم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اېربدے یا پېښورے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس دګل غوټۍ تهٔ لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا اغزے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ډیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تهول راله راتېر شي
چې یار راغې نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یوځېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

○

ترخې ته مې نرۀ کېږي کله کله
په خوږو سرپېے مې کېږي کله کله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې بنۀ کېږي کله کله

چې اشنا د چا نه ورک شي مو ګډ نشي
پسې ځان هسې ورکېږي کله کله

بنکاري یار سره نۀ دے اے خاطره
په لمو کښې چې اوسېږي کله کله

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د ښکلي مخ شمع چې مې وه شوله
جوړه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نږه ؤکښې ې نږه شوله

ډېرې وعدې ښې وې لږې لنډې ې
اوس دې هر يو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونۀ کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله



بيا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړي دومره غم خو ديواني ده درومه درومه

اوس تۀ ايله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بيا راته ګرانيږي آساني ده درومه درومه

وې يې چې بازار مې د ښايست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده درومه درومه

نۀ او تۀ خاطره نور په څۀ سره خوابۀ يُو
مينه خو هم دا پښيماني ده درومه درومه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شکر چې نه هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نه ښکلېده دکوڅې شرمه

نه به په ځان څه وکړم چې راشې ته
واوره دې په طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درنزدې یم که څو لرې یم
لرې به شم نورکله درنزدې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا ته دوے
پوه دې نه د مکر په وعدې شرمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



کله چې په فکرکښې دستا شمه
لاړ شمه له ځانه خو بیا راشمه

ته که لرې ضد نه خو پښتو لرم
اوس درسره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نه که د خپل زړه په تماشا شمه
تاو چې شي د زړه نه ستا د مخ لمبې
کړم چې ستا د زلفو په سوړا شمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدایې خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځاې لره دې راوستم
اوس به نه د ستا نه د دنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه په طمع د سبا شمه

وړې چې غریبې نیولې راکتلې دی
لوړه به خاطر ته په خندا شمه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلاري خاوره شوم د پښو څخې وتلې يمه
اشنا په تا پسې له تلو څخې وتلې يمه

د آشنا مخه نور مې سوے ته وے نه شي
نه خو د اور او د اوبو څخې وتلې يمه

په ښه ښېره به دې نه لپ وړې نازېدمه اشنا
نه مې اوس پوهه دے د ښېرو څخې وتلې يمه

تا خو به نور راته خندلي وې چې داغ ده وش
که په ژړا دې د کوڅې څخې وتلې يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د ګلو څخې وتلې يمه



تو به خټکه ته ژړېږې په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې ته کړې په قرار باندې وختونه

هېڅ چرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه کا
له شرمانو نه ته ژړېږې په خوار باندې وختونه
دا ته وختونه پرېږدې ده له انکار سره چې ته شو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې څوک په غم کښې درون د بنګارېږي
په مرچا باندې ته شې په خپل وار باندې وختونه
ګوره د هغو په نه وکښې نوره سودا نه وک
ته چې شې د ښکليو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې ته ژړېږې وخت په روغ او په بيمار
وروږې نه و دوږېږې په بيمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کړم خټکه مغ مې دا سې تور دے
خبر نه يې کړل ته مې په انکار باندې وختونه

ما خټکه به لټون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلې ته کړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما پهٔ مثال لکه پتنګ وګڼه
تهٔ دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

کهٔ مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق پهٔ ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېمونو ته مُدام
زړګیه تهٔ یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خومره ستا غمونه دی وړې
پرانهٔ مې تپول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وګڼه.



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړهٔ مې حوصله ماته شوه

شو نن مې دې هسې د بېدلۍ نهٔ وې
په زړهٔ دې بله څهٔ راتله ماته شوه
نور مې ساقي څهٔ جُرم نهٔ دے کړے
تشه لهٔ لاسه مې پیاله ماته شوه
کهٔ به عوض کښې یې هر څهٔ غواړې تهٔ
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جاسوسونو ته ځي
مابنام خوښهٔ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دردو غمو ترلې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


نور زهر په خوږو کتبې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زهر په چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لعسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لا شي بې وعدې
دا دې وی دروانې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په سترګو ماله ډار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
د کور مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

[1] دیوان او منزل نه کښې مصرع داسې ده هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

ته خو وایه زه به څه کړم — زړه کیه لیونیه
څه به کړم او څه به نه کړم — زړه کیه لیونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څه دی
په صحرا چې ګرځېده کړم — زړه کیه لیونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانه ستا په لوړ دلدرونی
زه یې کوم طرف کاږه کړم — زړه کیه لیونیه

زه خاطر د ته حیران یم چې په څه باندې راوین شي
چې په څه دې اوس وده کړم[1] — زړه کیه لیونیه

[1] منزل نه او دیوان کښې (ورنګه) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېده
په ما دے یک تنها کښې په هر لور ولګېده

چې لرې در نن دې شوم د وصال په تمنا
دستا د ګنګرو کانو په ما شور ولګېده
څېګر مې تش ګل دے راشه وګوره تماشه
د سوو فریادونو تنګ تکور ولګېده
زړکیه اُمید لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس یې زور ولګېده
سپین مخ دې را ښکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ورېځو غونډې خور ولګېده

خاطره خدای خیر کښه بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لړګی دی د خاطر د اسو پلو
رقیب وې ما زیګر شو په تن اور ولګېده

۱ـ منزل فضا او دیوان خاطر کښې داسې دی: څه خاطره خدای ګړ دیدن وکړې دیار
۲ـ منزل فضا او دیوان خاطر کښې تمبوره لیکلی شوی دی، چې معنی بدلوي او قافیه غلطوي



لوے دریاب د مینې نه شي په واړه زړه
شومه یاره بیا د ستا غوندې په نه زړه

چې په خُله کوی یو او په زړه بل
د هغه سره به مینه کړې په څه زړه

سوی د ننګ ته مې لږ وګوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو یه
د هر ستوري سره پورته مې خاته زړه

بیا یې خوب واړه تښتونه او هیبت شي
د هجران چغې چې وشي په ویده زړه

یو غم نه دے چې یې وکړې اے خاطره
د هر غم نه دی کوه یې په ساړه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې بله شپه به په نصیب سره راشي
په عمر کښې راشي خو د رقیب سره راشي

خوشحاله وی په غم کښې هم[1] بېداره شامطام
را دروی خوشحالی دې د حبیب سره راشي

خوښي په تندی یې د ازل لیکلي نه وی[2]
دومره زحمتونه د غریب سره راشي

خندېږی او ګډېږی سره ګلونه د صبا
نغمې یې د بهار د عندلیب سره راشي

نور خلق که رغېږی په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راشي

ل متن لیندا ر دیوان خاطر کښې المنظـ هم ، نسخه کښې مصرعه یې وزن ته اړ یې سخې کړی
۲ مطربې ، ترکیب مصرع یې معنی کړی



عکس د ستا زما د ستر ګوله زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په یو ګذار نه وځي

داسې ستا کوڅې له زه د دروغ ځان په خیال نه درځم
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع دو یه راشه نور د غه ضد ونه پرېږده
چې په مئین دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ټوند تجربه دې
چې په ربښتیا خو سمندر وی د انګار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکاری د ستا د ځوانه اوبه د شو بهار نه وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتې در ته لا ډېره هجره نه شم
د ستا سترګې مې کوږې د زړه نه وځي

خدای دې هغه وخت را نه ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شېبې د زړه نه وځي

کله د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
ودې وېل کله مې جرګې د زړه نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې نن نېزې د زړه نه وځي

جمع زړه لره اشنا چې زه د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړه نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي

تر هغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي



زړګیه تا وې چې دردونه څه دی
دا په ګوګل کښې دې ترګونه څه دی

زړه په بنو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څه دی

بس خر که مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشېد قمر مخونه څه دی

نه ده اسانه اشیانه مې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دی

د ستا منزل دې دومره نور لرې شی
ګودر پرندو ته تیندکونه څه دی

که مې ذرې کا نور نو لا به بنه شی
ستا په فضا لا وسعتونه څه دی

چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پرګلا نو بیا ګلونه څه دی

چې مرور یې پټېدے څو نه شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دی

دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی په خاطر دې پرهرونه څه دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نۀ شې پۀ بیا کښې خۀ دی
پرېږده راوګوره پۀ دا کښې خۀ دی

زما پۀ اوښکو کښې خندا ده دوستا
یاره دوستا پۀ دې خندا کښې خۀ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړېږه
سبا به مړه وې پۀ سبا کښې خۀ دی

زړۀ مې یې ستړے پۀ تپوسونو کړلو
ګله دا ستا پۀ دې ګېلا کښې خۀ دی

خاطره تۀ چې ماته نۀ شې کتے
لږ دې پوه کړه چې پۀ ما کښې خۀ دی

ګله دوستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

پۀ دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پۀ تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ تۀ به راخېژې کله
اوس مې د ژوند د محفل شپې دی

دا زۀ خاطر در نه تپوس کومه
د بېلتانۀ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا یې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادي پټې دي

زړه که ته غواړې نو لېونے خو نه يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي
په خوږو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي
په کومو سترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دې تنکۍ پټې دي
خاندې چې جوړې شول د زړه زخمونه
ايله په وينو کې خوږکۍ پټې دي
ځه شو په خُله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلي پټې دي
په سرو سرو ګودم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي
ستا له سينګاره ې ځواني شه لوګے
وېرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي
د ستا په خيال زما خاطر ښوايږي
خو د أميد په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وينمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ورته تلې سترګې مې آشنا
که وړې دي که تږې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مرسته په دې عمر مې شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پر هر ته سترګې دي
د مينې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
ورتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو مې کړه سترګه وړه ونه مې د عشق
که ګل يې د مخ راوړي خر ثمر ته سترګې دي
را وه چې خبرې بنده وه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوشګواړې نړه له تا د يار ديدن
نه نه شم ورکولې زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې ښله دنیا ښکاري
تا چې نه وینم نو څله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې د دنیاشي چې ته یادشې
بې تا تنګه لاکوګله دنیا ښکاري

بې له ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې په هجر و وصال نه په کښې پوهېږم
داوستا ده که مې خپله دنیا ښکاري

هیڅ خاطر دې خزان ونه کړو خاطره
شګنه خره او بې ګله دنیا ښکاري



زړه چې که هر څو رانه هر څه غواړي
هیڅ نه دے خبر چې هر څه زړه غواړي

اے ماشومه زړه ته رانه ښه واخُږ
مخه رانه غواړې چې ما نه غواړي
تل به بې پروا وې ګرېونګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېده غواړي
زړه او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځنې څه غواړي
هر سړے د ستا د دیدن وږ نه دے
راځو هم زړه غواړي هم لېمه غواړي
خبر نه کهٔ ذهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم په کښې وی چې څوک یې ښه غواړي

خلق پرې تېر شوی له سرونو نه
ځله ورنه خاطر په تشه ځله غواړي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژنې
نور به بدکا چې پهٔ دې منځ کښې ځان پېژنې

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېږې مهٔ کړه
سپين زړهٔ مې ستا له مينې نهٔ صبرېږی

کهٔ دې غم پهٔ ما انبار وی پروا نشته
دکلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږی

چې مې ورتې اشنا وائې خفه شوې؟
زړهٔ مې ښهٔ شی پهٔ کوګل کښې نهٔ ځائېږی

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
لکه پانه چې پهٔ ونه کښې رپېږی

۱ پوهېږی



ما وې نن به مې زړهٔ وچوی خو دردونه دی تېرېږی
پرېږده خفه کړې تپوسونه خو وختونه دی تېرېږی

جوړې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوری
نن مې سترګو ته د وړاندې مشالونه دی تېرېږی

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وی د ستا د لاسه
هر څو کهٔ سختونه طوفانونه دی تېرېږی

ستا د حسن پهٔ بهار کښې پاره نور د رنګينی نشته
د دهر[۱] پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږی

۱ متن لنډه او ویلو کښې د الفاظ نشته چې مصرع یې پوره معنیٰ کړې ده

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ځه چې پرې پۀ ما زما د يار سره جوړيږي
خبر دے زما زړۀ د انتظار سره جوړيږي

کله پۀ يو رنګ شي بيا سل ځل پۀ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړيږي

ګوره واړۀ خندګه پۀ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړيږي

څۀ پۀ خاطر کيږي نن د بنګليو پۀ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړيږي

○



○

د وخت د ګذارونو مې داغونه نۀ جوړيږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نۀ جوړيږي

يو ځلې چې ودان کړے ستا تصوير راله اشنا
غم مخسې زما هغه فکرونه نۀ جوړيږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې د ګړ زړۀ پۀ کښې برجونه نۀ جوړيږي
اے زړۀ تۀ راته وائې چې يار راشي څۀ به کړو
لا خو به ځنې وهاندې تعبيرونه نۀ جوړيږي
زۀ خو چې اشنا لا د پخوانه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نۀ جوړيږي
زۀ تا ته پۀ قدم کښې او تۀ ما ته وې ولاړه
زما او ستا پۀ منځ کښې پيغورونه نۀ جوړيږي

خاطره يو وېغ نۀ ده نن زړۀ جوړ او سباوران
چې ورېږي کوي غمونه هغه زړونه نۀ جوړيږي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه د لېونو نه پاتې کیږي
ګونده چې یو کړ دې چې د پښتو نه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پیغې مې د زړه د لمن ورڅېدې لاړې
غم دې په کښې د هر شو د نیرو نه پاتې کیږي

نه بلېده صبح اوس دمغ دې. دا مې زړه وه
ګونده چې به سکوډ د سرو لمبو نه پاتې کیږي

تا چې په کښو وینو د عشق بو تلم زړګیه
څکه سې لاړې د پرندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا لا یاده مخکښې مخکښې سړی
څکه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لوړی بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښتو نه پاتې کیږي ۱

بیا را غلله شپه او ځلند ستوري یار را نغی
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

---

۱ د دیوان کتنو نسخو داسې ده: خاورې یې دي چا خاطره چې د پښتو نه پاتې کیږي

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه بړندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
خو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
ډېرې شېبې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
زهٔ درته لهٔ داره پهٔ محفل کښې کښېنهٔ شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې يې وويشه زلفې تار په تار
بس خو يو ګرېوان ته مې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګيه! ځان ته مهٔ ښکلوه ښکلے
وبه چوې لهٔ واره کهٔ دردونه وارخطا شي
غلهٔ سره د مينې په محفل کښې چې يو ځاې شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړهٔ مې کهٔ پهٔ خُلهٔ نهٔ بيانيږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
ځکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

مياشتنۍ "ژوندۍ" پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ء

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

پهٔ ارمان د نادانۍ شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوبې ورک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ ارمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

پهٔ توبه باندې ډېر بد ښکاريږي چې زاړهٔ شي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لمبونې پهٔ کاڼو کې ورته خاندي
د هوښيارو ځنکدن پهٔ يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لس مېلمه دے
تا به وکړه مه وار وکړه کهٔ دې وار شي

تهٔ دې خپلې سترګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هومره ي سود په لېونتوب نه کیږي
چې په مشکل کښې ي ګریوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې یې رون دے د لېو په پېمانو شي
سو دې کله بیا د لب په پېمانو شي

څو چې خداې راکړے نه وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لېوني غښونه تل په لېونو شي
نه د ستا لېونو سترګو نه ډار نه کړم
که خویونه دي د سترګو لېونو شي ۱
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپېلني دوړاند بنو شي ۱

چې د نړۀ کره ته دې راشي پروا مه کړه ۲
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

---

۱ که دا دواړه شعرونه متن لرنه کښې نشته

۲ دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د نړۀ کور ملې راغلے دې سوزي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوږې را تاو شي
زما د زړهٔ خُنې سمې را تاو شي

پهٔ عمر به پره لوپټه کښې تا وشي
لکه وړانه برېښوکه را تا وشي

نهٔ به مې بيا کړې لېمنے د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ را تاو شي

پهٔ زړه بورې خوبه وا نهٔ ويم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ ځوانه را تاو شي

وړاندې به مې دا وېچې کاتهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوه شوم وايم غځهٔ به شي

وايم ستا بڼو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وي داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وصلهٔ داسې جدائي خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وېږې کړې تېرې چې راځهٔ ځهٔ غرارې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ يې پرېږدي دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ به شي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښه خو مه راکوه مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلېږی د محفل د پاره خاندی
زړه کښې داسې وایې چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفا ګانې، ستمونه که غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شی



راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نه شی
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نه شی

ډېرې شپې وله راشه چې له یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نه شی

وایمه له ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا په حوصلو خبرې نه شی

زړه او ته چې وو ینو له ورایه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نه شی

یاره ستا د هجر او برد و شپو شکوه کړے یم
ګوره چې یې اوس په اسویلو خبرې نه شی

خدایې خبر خاطره زړه بیا چرته ته بیا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نه شی

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار کړه به په خُله پاتې شي

ستړې مې دوره سحر وختي پاڅېږه
په شوګیرو مې وعده پاتې شي

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کاږه وانړه کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه ښکاره
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

وستایه ډېر د یار تراخه خاطره
چې په کتاب کښې دې خوږه پاتې شي



زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله په ټول کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي په مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستا ساتلے مخ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوک چې ستا د گرانې مینې طلبگار دے
هغه کله له غمونو نه وزگار دے

ستا سینگار زما په سترگو کښې غمیږي
چې په کوم لوري زهٔ گورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
کهٔ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې، تغیروې چې ئې ستا مینه
بس هم دغه ئې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څهٔ په مخکښې مخکښې کیږي
بس د ستا را باندې هر منت گزار دے

کهٔ دې یار له سترگو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته وینسه دا یار دے

———

میاشتنۍ، غنچه، پښور
اگست ۱۹۶۰ء



خوږ خوږ یو د مینې پهٔ ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه پهٔ تماشو کښې انتظار دے

ستا لندو وعدو چې پهٔ ما څومره اوږدې کړې دي
ښهٔ دے چې د ژوند پهٔ ورځو شپو کښې انتظار دے
مهٔ کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نهٔ کړې
ورېږې دې د چا پهٔ دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو پهٔ ما باندې ونهٔ نیوهٔ
ما ته څهٔ د هجر پهٔ غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړگی شنې پاڼې ئې وچې شوې
بیا در ته سپرلیه پهٔ راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کهٔ نن نهٔ وې سباله به دې خوښه شي
ږړې ئې در ته کېږے پهٔ اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
گران راته د زلفو پهٔ تیارو کښې انتظار دے

ښه دهٔ چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن پهٔ سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه خو مره بې وفا زما دلبر دے
چې له غمه یې زه مرم په ده اختر دے

د هجران د لاسه شپ و روز ژړېږمه
څکه داسې یې په اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زه ورته نظر کوله نه شم
یا خو دے ورېږ په لمر ښې نمود دے

اوس یې سود په بل بشر د نړۍ نه شی
چې لیدلے یې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړه د یار دغشو په مثال دی
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

درېغه زه خاطر خوږوه په سپل قصور کړې
چې په څه باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا په خبر دے
دې وې ورو دوستی به ته پوه شې څه وائې خېر دے

دې وې زړه کله خېږې ستا زما په زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زه یمه هر سحر په مېړو روڼه
ما وې زړه زما د لوړو غمونو شپېر دے

دې وې بیا ته مخ ښکاره کړه که پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا له سره تېر دے

ما وې زه خاطر دې هر وخت یم په طمع
دې وې راشه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا یې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان یې د لوګو د اسوېلو نه ړک دے

خوښه یې ستا پهٔ بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې یاره د ازغو نه ړک دے

دستا نصیب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ړک دے

نمر مخې مخ ته یې لهٔ ورایه ناخبر کتلی
نن راته څکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

راشه ګلونه ګواهان دی پهٔ صحرا کښې زما
چې توله چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے

دا حسرتونه داغونه تنګ ګوګل زړګیه
لهٔ دې خو ګوربنهٔ دے هر خو ګهٔ د تیارو نه ړک دے

زړهٔ یې یوه د لېونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ړک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو وختینے لا د ګیلو نه ړک دے

زما خاطر یې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
د مخ کتاب دې د الله راوړه د قیصو نه ړک دے



تنګ تورې سوے د ستا سوے وربل دے
چې دې اور د بنګلو مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څُم پهٔ مخکښې لا منزل زیاتیږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړې ې شک پهٔ کومه لار دے سودائی شوم
نور یې هېڅ مونده لے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسی اے خاطره
خبر وګڼه حرم که خو شه دل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خومره ږږې په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نۀ شي وائې کم دے

زۀ چې مسې پرېشان او سرګردان يم
مرېو غم يې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې په سترګو مې تود تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
په کوم ځاې باندې يې ايښې چې قدم دے
ټول عالم يې ورصفت د سخاوت کا
ګيله څۀ کړم چې دا خپل نصيب مې کم دے
زۀ خوشحاله مسې شومه په خندل يې
خلقه ما او په جانان کښې کوم يو کرم دے
چې دلبرې په ژړا پورې ئې خاندي
نو ولې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مۀ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا په انتظار کښې ماته کال څۀ دے
دومره لا ماندۀ نۀ يم ستا خيال څۀ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خاندۀ لے آشنا تاته ذغال څۀ دے

تاکه په شاله کښې پټه ولسېدم
بيا به داسې وائې چې مشال څۀ دے

زۀ دې هر يو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبين خال څۀ دے

ما خو درته وېل ورپېښه مې مۀ کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نږه ؤ مې ستا په تور دے په بل تور مې پېرزو نه ؤ
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور مې پېرزو نه ؤ دے

اے هجره چې مې ورانه نه کړې دا د زړګي خونه
ارمان په کښې د يار کړمه په کور مې پېرزو نه ؤ دے

دا نه چې ځر بنا پست باندې شېدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزي خو په اور مې پېرزو نه ؤ دے

په غېر ستا د محفل ځنې ې نه شي ځه ګذران
در دروي به خاطر خو په پېغور مې پېرزو نه ؤ دے

چې لږ نظر مې د بصر پاتې دے
چوړې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږ زلفو ده خو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
زار دې د مينې د لمبو ځنې زړه
لا مې په مينه کښې ځيګر پاتې دے
تېر س د شپې وکړه که وکړې يقين
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تېته نه شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن کړلو
خبر شه اوس را نه ځيګر پاتې دے
نه او انکار له تا په کوم ستړګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د رباب په خُله رخصت ځکه شم
د يار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلونو به يې ښکله خمه
ما خو تل تک چې د صحرا زده کړے

ن دې ونه وې په وعده کښې راته
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مه کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګار دولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړه په سولو کښې مسکې وې ماليدې

پروت يې څه پرواه ستا په ګذاب نه وه صنم
زما په زړه ويشتلو کښې مسکې وې ماليدې

شاهد چې وه درياده حيرانتيا يې هغه وخت
اشين ته په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه په دا که بنه يې ستا له سپي کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼي اننګي دې سره ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کړې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

اشنا چې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل که هجران دهٔ چې ګیلې را یادېږي

○

بس دهٔ چې ستا ارمان په زړهٔ کښې نن ختلی دی[1]
دا نهٔ چې مانه نورې مرحلې را یادېږي
منم چې فراقجن به نور سبا را یادېږي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ مانه شپې را یادېږي
کهٔ هرڅو شپې، نن یا دله چې هېر دي نشم بنهٔ[3]
پخوا چې لا په زړهٔ کښې اوسېدې را یادېږي
وم ورمره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته خو به خاورې بادېږي را یادېږي
زما د زړګی یادشي د مخکې نظر سره
په هېڅ نهٔ هېرېدلې هم راشې را یادېږي
دا نهٔ چې اَس چشمه اوس یې غټې ستایمهٔ
د ستا خمارې سترګې لا وړې را یادېږي

○

بېګا چې شمع ردیه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

○

---

[1] له مصرع یې معنیٰ ده



○

زما د اُمېدونو ورځې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل که مرحلې وغزېدې

اوس چرته تر بنه لاړ شم لېونے چې کړمه یار
هرځای کښې یې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخښه اوس دې سپې لارې مانه کړه ګرګی
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې بوې چې خاطر کړو یار ګلا
په دې د رقیبانو جنازې وغزېدې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو مې غږ ونه وې
بس کهٔ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زهٔ کهٔ قسمونه ورکړم
زړګيه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده يو ګل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په يو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وايه په محل کښې څنګه ښکارې

شومه به په باغ کښې ته په غوټو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې يې په ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئين کښې ځان ليدلے په يو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ټوکي د خندا نه سترګې لاړې
نو خود يې لرې برې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګيه! پس له دې به يې د ستا په سترګو ګورم
نظر يې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګره ياره له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې يې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که وګوري نو اوس بيا مخ پټوي
نو کوزې يې ګريوان ته له حيا نه سترګې لاړې
يو بل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لږ راشه شمع رويه! لرې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې يې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مې د خاطر سترګې په تا نه شوې
چې ډېرې داسې وينې له دنيا نه سترګې لاړې

مياشتينه قند مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ع

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بيا به څه کړې

در ته کتے نه شم حيران يم د اشنا سينګاره
تا يې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بښږې او دا دېنه تل ته ماته کړې
چې يې پېرزو نه وی دعا څخه اشنا به څه کړې

چې څه يې وکړل څخه يې تول وکړل په تا خاطره
دا به چې تا له په لاس راشي په اشنا به څه کړې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

وېره خوشحالی بنه نهٔ ده بیا رانه مېرېږي
کله کله غم راکوه تل چې ې بیا دېرېږي

زهٔ دې یم لمکے پېتېږدے نهٔ شي رانه شمي
خدا ہرو د دنیا نه پهٔ تیاروکښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې مربر ځاې اشنا دے
اے وې به نظر، ته پهٔ هیڅ هم نهٔ مرېږي

ستا به د خاطر نه وی پهٔ زړهٔ کښې خځه تېرشوی
دومره بې پروا یې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږي

○

---

لـه [illegible]



○

لکه مجنون غوندې کرځم پهٔ بیابان دربسې
وایم پهٔ خلهٔ لیلیٰ لیلیٰ ځیرې کرېوان دربسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال لهٔ خوشحالی نه چرې
لکه وحشی کرمه غمونو د هجران دربسې

نهٔ دې اشنا یم نهٔ چې بیا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پهٔ تا نهٔ کرم خفگان دربسې

چې ته بیا نهٔ وائې پهٔ ما چې ته شیدا نهٔ یې ته
کهٔ د کمرو مې گذار نهٔ کړو خپل ځان دربسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې را نهٔ شي خواله زما
چېرې پهٔ لاس کړې خاطره رقیبان دربسې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تیکرو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع روبه
څو به کړمه داګریان په توره شپه کښې

زه خاطر د ستا د زلفو نه چار نه کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړنې زما سترګې
چې یې نه شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې در ګورم شی نمځنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لږ دا ګوره د نړۍ سره
در نه غواړی جوهر بخښنې زما سترګې

د هر چا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خو نه شی چې زه ژاړم
ډکې ستا د در لسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درګوری
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خوږ د هرې یوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې ډګر مړ او ښکو اوړې
په ژړا د غم پېغې شوې زما سترګې
چې سبا به کاږي ستا په در کښې نسیم
خوږ د هرې یوې ناۍ شوې زما سترګې
بیا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د یار زر ګل دیدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

میاشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ع

دستا چې نهٔ وینم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا راپورې سترګې

نهٔ به یې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
دستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پیمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
په تصور کښې خرې کړې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چې سترګې يې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره داګرېوان يې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو پوهېدل چې دستا خوله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خولې چې راپسې شولې

اوس هم ستا دمينې افسانه زما په شونډو ده
څومرې افسانې مې په نړګوتي کښې ورستې شولې

سترګې دخاطر کړه ستا په سترګو تېر وتلي دي
ګورمه دا بدې کړه زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چېرته خاطره دورک شوې نه ده
نه ګورې چې تاته داشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ايسار پرې شم ولې
چې پښېمان يې تيار پرې شم ولې

په يو ساعت کښې يې بيا بيا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار پرې شم ولې

دريغه چې سر دې دستم نه وے نه
چې نه سر کېږم ازار پرې شم ولې

نور به دې څه وکړي بانه په خاطر
تول دې پرهر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوبښکې نه کمیږي خو را ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو رانیاتې شوې

څو ځلې د اوبښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به کوږي ستا سترګې نماسترګې
لرې دې وی خبر دے هو چې نیاتې شوې

تا چې د خاطر سره څه کړي دي
خبر دے اشنا دا چې درته پاتې شوې



ته به په زړه کښې ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکوې

منع به نه شم ستا له دره ځنې
په دې دې ناځکه څه نه راکوې
څه لوې اختر دې د ځوانۍ تیر کړلو
ته به لا سو نه ماته بښنه راکوې
داسې چل وکړه چې نو بس ورو ورو دېږم
سبا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله ته راکوې
چې پروند او ګوره دې کړم نو ماله به شوه
اوس څو به هرڅه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کوه ته
که یو اوان راله په خوله راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ څهٔ چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې



هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرارولو له راځي
پوهیږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړي د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو بنګلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هیروم
اے غمه د دنیا کهٔ هیرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره میشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نن غم مې لۀ زړګی وړی کاږۀ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لۀ مخه
شې دې پلوشې ښکلې بانۀ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وړې وی که ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږی لکه ښۀ چې را ته ګورې

ته زما د زړۀ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زۀ به در ته ووایمه څۀ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مۀ را ته راګوره
زۀ درته کتلے نۀ شمه ته چې راته ګورې



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ هر څهٔ هر څهٔ وړ تمه
ګرانه اشنا دا ې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه څنګه هېرېدمه — خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ زړېدمه — لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما ترتوله دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا ې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېبهٔ غر نهٔ وتښې صنمه — چې وی ژوندی لهٔ غربه راشې
درته پهٔ زړهٔ کښې بهٔ یې ساتمه — پرېږده چې مونږ بهٔ پهٔ جفا شې
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ درواړومه
ګرانه اشنا دا ې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا داسې کېږي — پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږي — لهٔ ګېر ګړو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا ې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وې درکړلی — اوس یې ژوندون اختیار دې
هغه چې تا ورته خندلی — نن یې د لوړې خندا توره دے
زما د زړهٔ خوږینه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قرارومه
ګرانه اشنا دا ې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

ـه دا یو ځایه د (لله) په ځای (د) لیلی شوی دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړې ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر څټګې ورسېدهٔ
بې لهٔ سوزه خوځېږي ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل ازاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ ښوباندې وېشتلے یمه
څې مې لهٔ خُلې نه توږې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې ګرځم زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غونډې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نۀ ومه خبره زۀ، تا چې زړۀ با بُلبلے دے
تا ووې رېبار ته پس لۀ دې به څو راځې
خبر دے کۀ تش تورې دې پرون زړۀ کے شړلے
خيال ې وۀ سنګار ته پس لۀ دې به څو راځې
وښايه څېګر راته      اوس د زړګي سر راته
وايه د ښو غشو پۀ کوم کوم ځاې ويشتلے دے
لاس کښې آئينه ې وه      کړې چې کينه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لۀ دې به څو راځې
څنګه مرې د ر شمه      پۀ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقيب راته ډک تو پک نيولے دے
يو ځلې د رغلے وم      وهر دې زغلولے وم
غلے وم ديدار ته پس لۀ دې به څو راځم
ما چې کوم ستم کړے      اوس ې پۀ تاکم کړے
دا د ځوانۍ ولړ پۀ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام د ستا      کړې به تل سلام د ستا
پرې ې بنده د ربار ته پس لۀ دې به څو راځم

نن څو را ته مۀ وايه چې نا      تر سبا
سو دې ساقي نۀ شي پۀ مينا      تر سبا
ووايه اشنا راته، تۀ زما تعبير نۀ يې
وې چې تل پۀ خيال کښې ې تۀ صفه تصوير نۀ يې
بله راته ښکارې دا دُنيا      تر سبا
سو دې ساقي نۀ شي پۀ مينا      تر سبا
راکړه ساقي داسې مئې چې شي زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتيا نشه هم پرې د دنيا نشه
جام د لبو راکړه پۀ بيا بيا      تر سبا
سو دې ساقي نۀ شي پۀ مينا      تر سبا
نن خو دې را جمع شۀ پۀ مئيو کښې کيفونه دک
ستر ګو پيمانو کښې دې رنګ پۀ رنګ ستونه دي
ګُلې د خاطر شه پۀ ربنتيا      تر سبا
سو دې ساقي نۀ شي پۀ مينا      تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند يې ګريوان دے غاړې يې نم

مينه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
ويره له چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ يې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

ډګل په چم طلب کړم صنم

ے منزل رندار ديوان کښې مصرع داسې ده يه چم په چم طلب کړم صنم



چې سترګې نه وباسي، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

زما او ستا دلته څه دی، خوږه مينه
دا خو هر چرته کيږي، چې داسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان په بيابانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

څو به په ويره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بيګا سبا کړو
ته شه له زلفو تيره، نه له ګريوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

دا ړک د مينې زړونه، به دواړه يوسو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل په پوښ، بل دې پيزوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

دا يې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
څکه چې ستا له غمه، ويريم پريشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

ے منزل ګاه ديوان کښې (د) د [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سن نه کال ته د پس غمونه
له داسې ژوندنه مرګ به ښه دے راته شینه
الله دې خیر کړي
ستا د ماڼو فریادونه
هېر به مې نه شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نه شي
پاس په اسمان کښې جهانونو سره ځینه
الله دې خیر کړي
د پښتنو فقیره ژوندُه
خنګه به تېر شي
تېر خو به شي په لوږه تنده
خنګه به تېر شي
په مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه
الله دې خیر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې یاد یږي
غم د هغوی را سره پېر شي
څوک مې یاد یږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خیر کړي
خاطره هغه خلق ستا یه
په خپل کتاب کښې
تل په بار بار د غسې وا یه
په خپل کتاب کښې
حاجي سره نه په وطن ورکړي دینه
الله دې خیر کړي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګيرې ټولې پهٔ سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

ستا د ښايسته سترګو د پاره   فکرونه مانه ښکليه ياره
څومره لمبې مې پهٔ زړګوټي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

د خداې د پاره بس دې کړا شه   کهٔ مرور يې را ځلا شه
ستا د راتلو پهٔ انتظار مې سترګې ستړې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

دا ته چې لاړې د بل چا شوې   زما د زړهٔ ځني جدا شوې
زما د اسرې شوګيرې دې ټولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

خاطره زه ځان ته حيرانه يمه   کهٔ لېوني ګرځي بس روانه يمه
د پيغلتوب ملګرې ټولې دا نه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پهٔ چغو چغو

د قافيه درسته نه ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



واوره صنم زړهٔ مې نهٔ شي له تا نه
وېلې نهٔ شم زهٔ څهٔ لهٔ حيا نه

دغه ستا د مينې درد و نه ښهٔ دی پهٔ ما
زړهٔ مې د ستا د پاره وائي چې وي دې پهٔ ما
واوره صنم

پهٔ کومه لاره ښکليه چې قدمونه کېږدې
دېر به مې پهٔ زړهٔ باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړهٔ مې لهٔ خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر دېر ګران دے پهٔ ما چې پهٔ خنداشې صنم
واوره صنم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

په تش دیدن باندې یې زړه زړه مشغولیږه
څو مې خفه کیږه بله ورځ به راشم

له هرچا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې در شمه نه څه بهانه به کړمه
په انتظار کښې یې له ځان سره ژړیږه
څو مې خفه کیږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تابه هیڅ نه کړمه
یو ساعت بې له تا به په نور څه تیر نه کړمه
په دې سودا یې قدر کیږه راوینیږه
څو مې خفه کیږه بله ورځ به راشم

نیمه د ستا او زما ، ماه تابان شو سره
بل یې کاروان د ستورو په کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې رنګیږه
څو مې خفه کیږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دنیا خاطره ما وګڼه
په کښې یې مخ او زلفې بیګا سبا وګڼه
د نړۍ په مینه یې په سترګو کښې اوسیږه
څو مې خفه کیږه بله ورځ به راشم



ته چې په مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې
ستا رضا ده چې داسې ژړیږم
په عالم کښې داسې ګرځیږم
په محبت یې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي ده پیدا له اوره
لږ زما سوې زړه ته وګوره
جوړ په معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره داسې حیران دے
په محبت کښې ستا بندیوان دے
یې کبرجنه بې ریا یې
ما ته قبوله دلربا یې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ زدې شه
خاورې ایرې شه
څې دستکو د زړګ وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
چرې د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
څهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د انغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی

راشه چې ژوند دې د کیفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

اوس به توول بوټی سره ځان وښائی
څوک به کلی، څوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپلې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی

اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ځایونه به د ګل جوړوکا
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوی
په آئینو کښې به کاګل جوړوی
دغه جهان به لهٔ نازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بنګلی ځلمی به پهٔ شملو کښې ږدی ګل
او س خو به جونه پهٔ کمڅو کښې ږدی ګل
ډیر ارمانونه به پهٔ زړو کښې ږدی ګل
څوک به د زړهٔ پهٔ پرهرو کښې ږدی ګل
دامې به زړونه پهٔ داغونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زهٔ کوم ثناء د چا خندا نهٔ وینم
چې ې لیده هغه رڼا نهٔ وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نهٔ وینم
زهٔ نور ګلونه د دُنیا نهٔ وینم

څوکهٔ جهان لهٔ دیدنونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان ړنګوی
زړهٔ پهٔ ګوګل کښې ې جانان ړنګوی
د مینې ګل را نه هجران ړنګوی
نهٔ کړی خاطر دغه بوستان ړنګوی
د مغ کتاب دې د رازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مې غواړی شمع رڼه سوزیدل
راشه یو ځل

ارمان مې دا دے که پوره شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځنې وتښتیدل
راشه یو ځل

که دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وربل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزیدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پریږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



څن دې وربل په کوم پلو دے
بیا به سوزیږمه زه اور راته بل دے

د ژوند کاروان مې دے دغم غرو ګردونړکیږي
واوره فریاد مې د جرس په اوازونو کښې
قلے دې پل په کوم پلو دے
بیا به سوزیږمه زه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې که نږدې به وینم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بیا به سوزیږمه زه اور راته بل دے

خاطره څن دې که لږ سم راته کتلی وے
واړه بنا بسته به دې له نږه څخې وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بیا به سوزیږمه زه اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نیولي دي ماستا په رخسار کښې
او به اوبه شول توري مې په خُمبار کښې

ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت را سره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به اوبه شول توري مې په خُمبار کښې

نهٔ در رسیږي نهٔ در ته غښ شي
نهٔ رانه خُمب شي نهٔ رانه نس شي
داغهٔ ژوندون دے په انتظار کښې
او به اوبه شول توري، مې په خُمبار کښې

يار يې لهٔ بنګلو سره روان دے
دي تماشې ته خاطر حیران دے
نکه سپوږمۍ وي ، ستورو قطار کښې
او به اوبه شول توري مې په خُمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرمې وختونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې در ته ګورم

ما ته را یاد نهٔ دي خوږ زهٔ په خواره کښې یمه
په نړۍ کې غم نهٔ لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زهٔ لیونے یم چې کوم دومره فکرونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې در ته ګورم

لیونی نهٔ یمه چې ، د غسې سودا کومه
په تا دي اور بلیږي زهٔ څهٔ پروا کومه ـه
چې بیا مصروفې را ته نهٔ کا پېغورونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې در ته ګورم

ـه مترلیته او جنوراکښې د دار مصرعې دا سې دي :
لیونی نهٔ یم چې دا سودا کړم — په تا دي اور بلیږي زهٔ څهٔ پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه يم چي خپل ځان ووينم
چي په آئين کښي ګورم آئين پرېشان ووينم
جانانه ډېر درپسي ګرځمه ارمانونه
زه دي ياره نه يم دومره وزګاره نه يم
چي درته ګورم

زه چي ګورم له څه مېنه سوزېږي په ما
لکه د اور په شان سېځکار ځلېږي زما
خاطره مه راځه بلېږي سره اودونه
زه دي ياره نه يم دومره وزګاره نه يم
چي درته ګورم

تورې سترګې دي اشارې کا
سرې شونډې دي لبې کا
زړه کيږه راته وايه
چي زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانه را ته ازغي کا
پښې د ګلو اننګي کا
چي مسکۍ شي بيا سترګي مرې کا
سرې شونډې دي لبې کا
زړه کيږه راته وايه
چي زه کوم طرف ته لاړ شم

بيا چي ارمان د مسره ته وي
کړه چي څه دي تن په زړه وي
چي مې خلق ټول تماشې کا
سرې شونډې دي لمبې کا
زړه کيږه راته وايه
چي زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښي
دا دي خاطره په تيارو کښي
خپلې اوښکي دي ځان ته ډېرې کا
سرې شونډې دي لمبې کا
زړه کيږه راته وايه
چي زه کوم طرف ته لاړ شم

۱ متن لرنه ار ديوان کښي (متن) نشته
۲ متن لرنه کښي دا بند نشته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا پهٔ تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبر بندهٔ را ته معلوم یې
مسې خونهٔ چې تهٔ ماشوم یې
کله نهیر پهٔ ما مظلوم یې
چې نهٔ پوهیږې لهٔ هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا دمخ پهٔ تماشا وم
دغه وصال وهٔ کهٔ جدا وم
نهٔ یم خبر پهٔ څهٔ سودا وم
چې تماشا مې ستا دمخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې پهٔ غمونو کښې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره څله هېر کړم
کهٔ دې یو ګل پهٔ دیدن سېر کړم



ګټنې لهٔ غمه به دې سر شم یا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شوې
بس اوس مې قتل ته تیار شوې
اشنا زما څخه بېزار شوې
پروا مې نشته خو پهٔ خپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څلکه قبول دغه بېلتون کړم
څهٔ بې لهٔ تا پهٔ دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نهٔ یمه دچا یم
راغلې دایم پهٔ خندا یم
مروړ نهٔ یمه پخلا یم
خاطره بیا کهٔ مرور شوم نو ګیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه     زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دي بهار شي یاره زما

چې نه را درومې اشنا نو وعدې څاه کوې
هغه پرون دې څه وې ن چې بیا یاله کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دي بهار شي یاره زما

ستړګې مې بې له تا نه د چا په لور نه ګوري
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نه ګوري
مړې به ګله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دي بهار شي یاره زما

نه د بل چا د مینې اشنا څه طمعه نه کړم
نه به له نوره سره ستا مینه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دي بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیرانه کتبې (چې) دے

چې نه را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
وادره زما یو څو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځیګر
نه کړې پروا یې پرې دلبر
نورې دې څوک چې یې واوري دغه فریاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

که بنه دې شي په سر زما
وي دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانپناد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان ځهٔ ګرځم چې نمر مخيه ياره تا ووينم
ښکله دنيا ووينم          ښکله دنيا ووينم

ستا د کاکُل په تورو شپو پورې لاښې ځهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې ځهٔ دی
نن تماشه مې د ژړا چې دې خندا ووينم
ښکله دنيا ووينم          ښکله دنيا ووينم

د ستا په مينه کښې د خلقو خندنے خوښ يم
خود خپل عقل نه ورکار شم لېونے خوښ يم
راسره غم د لېونو شي چې صحرا ووينم
ښکله دنيا ووينم          ښکله دنيا ووينم

ګُله چې ما خاطر ته ياد شې ټول جهان ګل شي
له ډېره هجره سرې ګُلې د چشمان ګُل شي
خداې خبر بيا چې زهٔ به ستورے د سبا ووينم
ښکله دنيا ووينم          ښکله دنيا ووينم



د قام ځلمو سترګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ودرېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو نمونې همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر په څېر خپل طاقت په ټول جهان خور کړئ
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مه ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په ورانو لارو باندې مه ځئ قدم سم کېږدئ

له مخې لرې کړئ ازغي ځان ته ګلونه کېږدئ
شي چې اغيار در ته حيران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دی
ځلمو نمونه ځني ډېر ځلې په شا تللي دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سره هم واورئ چې پېغور ته نظر تيټ نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تيټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نهٔ وی
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وی

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې نن يې ونهٔ کړئ ځلمو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پوره شئ پهٔ خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ ډېرو وينو دا مکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا ډېرې مهٔ کوه
هسې د پکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلي اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستوري مدام اختر دې زمونږ
د ستا مثال ستوري بکاري نظر دې زمونږ
د ستا د اقبال ستوري سر او بصر دې زمونږ

تل ځلیږي په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**